پوهندوی آصف بهاند

# د لوږې سونامي

## پنځمه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

## څلوېښتمه برخه

**په افغانستان کې تر دوه ویشت میلیونه ډېر انسانان د خوراکي توکو له نشتوالي سره مخ دي. ماشومان، کوچنیان او بارداره ښځې د خطر پر لومړۍ کرښې باندې ولاړ دي او د نیستۍ ګړنګ ته ورلوېږي!**

**دا به د بشریت په اوسني تاریخ کې تر ټولو زورونکې غمیزه او لوی مختوروالی وي چې ماشومان او کوچنیان له لوږې مري او په ډلیز ډول، له دومره لوی نامرییې تاوتریخوالی سره مخ دي.**



ټول نړیوال په دې پوهېږي چې افغانستان له خورا ستر ازمون سره مخ دی او دا سیمه د خپل تاریخ په ترټولو سخت پړاو کې د یو ستر بشري کړکېچ په ځپو کې راګیر ده، نړیوال دې ته ګوري چې دا غمیزه نوره هم پراخه شي او بیا داسې څه رامنځته کړي چې ټول بشریت به یې په مخنیوي کې پاتې راشي.

خيريه مؤسسې غواړي چې مخکې له ژمي تر اړمنو کسانو خپلې مرستې ورسوي، خو د سياسيونو چلندونه او دريځونه يې مخه ډبوي، سياسيون په خپلو «تاکړې ـ ما کړې او...» کې سره اخته دي او بيا هم تېروتنې کوي؛ اړمن کسان د بشري مرستو د نه رسيدو په وجه د سياسيونو د تېروتنو پور د خپل ژوند په بيه پرې کوي.

دا لاندې رپوټ د ملګرو ملتونو د خوراک نړيوال سازمان د ۲۰۲۱ ام کال د اکتوبر پر پنځه ويشتمه (۲۵ مه) باندې خپور کړ:

«د ملګرو ملتونو خوړو سازمان 'ډبليو ايف پي ' مسوولينو خبرداری ورکړی، که سملاسي اقدامات و نه شي، سږ ژمی به ميليونونه افغانان له لوږې سره مخامخ شي.

مسوولين وايي، داسې احتمالي خطر شته چې ښايي د افغانستان نيمايي نفوس، نژدې ۲۲ اعشاريه اته ميليونه کسان د کافي خوړو له نه خونديتوب او له پنځه کلنی د کم عمر نژدې درې اعشاريه دوه ميليونه ماشومان له کم خوراکۍ سره مخامخ شي.

د ايف ډبليو پي اجراييه مدير ډېوډ بياسلې وايي:

"افغانستان له خورا ناوړه بشري کړکېچه تېرېږي او موږ غميزې ته شيبې شمارو" .

د اګست په نيمايي کې د طالبانو ولکې ته د افغانستان له غورځېدو وروسته د دغه هېواد کمزوری اقتصاد لا ناتوانه شو، چې وار له مخه پر بهرنيو مرستو تکيه و.

لويديځو هېوادونو له دې هېواد سره مرستې بندې کړې، نړيوال بانک او د پيسو نړيوال صندوق د دې هېواد ساتلې پيسې کنټرول کړې.

يو هېواد په داسې صورت کې پر بهرنيو مرستو تکيه بلل کېږي، چې د ناخالص عايد يا 'جي ډي پي ' لس سلنه يې پر بهرنيو مرستو تر لاسه کېږي، خو د افغانستان په هکله د نړيوال بانک شمېرې ښيي چې د جي ډي پي ۴۰ سلنه يې له همدې لارې پوره کېده.

ډبليو ايف پي مسوولين خبرداری ورکوي چې د ژمي له رارسېدو سره به له هغو افغانانو سره مرسته لا ستونځمنه کړي، چې اړمن دي.

د دې سازمان مسوولين وايي، دا لومړی ځل دی، چې د خوړو کمښت او نه خونديتوب لړ کې د ښاري او کليوالو سيمو افغانان په ورته ډول له ستونزو سره مخامخ دي.

د ملګرو ملتونو خوړو او کرهنې چارو څانګې کيو يو دونګيو په دې هکله وايي:

موږ بايد افغانستان کې (د مرستو رسولو لړ کې) سملاسي لاس په کار شو، خپل ظرفيت او چټکتيا ډېر کړو، چې د سخت ژمي له راتګه مخکې چې ډېرې لارې بندېږي، د ميليونونو افغانانو، چې کروندګر، ښځې، ماشومان، سپين ږيري او ځوانان ټول پکې شامل دي، د لوږې مخه ونيسو. "»

له يوې خوا د هغو هېوادونو مرستې ملګرو ملتونو ته نه دي رسېدلې چې د مرستو ژمنه يې کړې وه او له بلې خوا کوردننه له خلکو سره د نويو واکدارانو چلن او پاليسي؛ د دې مخه نيسي چې په ټاکلي وخت اړمنو کسانو ته مرستې ورسېږي او په دې ډله کې لومړني متضررين بيا هم ښځې، ماشومان او کوچنيان دي.

د افغانستان او جهان حالاتو ته په کتو سره ليدل کېږي چي د انسانانو تر منځ ځومره توپير شته دی. په افغانستان کي کي دېری خلک نيم ډالر (پنځوس سنته) نه لري چي خپلو بچو ته څو وچي ډوډۍ پري واخلي، خو د نړی په بل سر کي يو جوړه کارول شوي کرمچ په يو اعشاريه اوه څلوېښت ميليون ډالرو خرڅېږي.

اوس د نويو يا زړو کرمچو غم له موږ سره نه شته، اوس په لومړي ګام کي بايد زموږ ټوله انرژی دي ته وقف شي چي څنګه هغه ماشومان وژغورو چي د مرګ له خطر سره مخ دي. ميډيا هره ورځ د مسؤلينو تر غوږونو تېروي چي:

**«... له پنځه کلنی د کم عمر نژدي درې اعشاريه دوه ميليونه ماشومان له کم خوراکی سره مخامخ شي.»**

دا کومه ګټه نه کوي چي موږ د نورو د فيشن او جامو يا بوټو په باب فکر وکړو، موږ چېرې او نړۍ چېرې؛ اوس بايد موږ يوازې د خلکو د ژوندي پاتي کېدو او د لوږې له سونامي نه د بچېدو فکر وکړو، که مو له دې حالت نه لږ ځان راوېسته، بيا به د نورو ښېګڼو او پرمختګ په باب غږېږو، اوس خو مو د ژوند امېير له صفر هم ورتيټ شوی دی.

که د چا کړي؟ او ولي ګړي؟ په باب فکر وکړو، لومړني مسؤلين موږ خپله يو. که عام خلک، ماشومان، کوچنيان او بارداره ښځي له لوږې مري، موږ خپله يې مسؤلين يو. دغه لاندې مطلب ته پاملرنه وکړئ:

«دروغ است

طفلی از قحطی نمرده است

نه يک، نه هشت

پارسال هم کودکی نمرده بود

برف باريده بود

فقط زير خيمها چند طفل، دستان نازکِ شان کبود بودند

و پلکان شان کمی يخ بسته بودند

در مکتب و ورزشگاه هيچ کودکی نمرد،

واضح بايد گفت:

کشتند...

*****

چه بيهوده است که بگويیم گرسنه ايم

نان است در هرسبد و نانواييها

اما کودکان دستهای شان قطع از سکه های پول

تقلا برای نان سودی ندارد...

کودک دیارم دستاناش تهیست

آسمان دور و زمین سخت...

*****

دروغ است

طفلی نمرده است، جسمش ربوده است

او را میان پارچه های کفن...

آرام مانده اند.

او خواب رفته است...

غش کرده بهر لقمه نانی کنار نان...

کودک نمرده است:

نه یک، نه هشت...

ما مرده ایم، انسان مرده است

کودک نمرده است

باور کنید سخاوت دیندار مرده است

خداداد فقیهی»

